# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د زمري ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د اګسټ پنځمه | ٤۱٦مه ګڼه


هېواد
۴ مخ

## ایران

ایران د خپلو اټومي پروګرامونو د پرمختیا له امله، د امریکا او ملګرو ملتونو له سختو بندیزونو سره مخ دی او اقتصادي وضعیت یې ورځ تر بلې مخ په خرابېدو دی.



## د قطر مذاکرات؛

## طالب پلاوی: پر اوربند او اصلاحاتو په بین‌الافغاني مذاکراتو کې خبرې کېږي



۳

### چې ټاکنې نه کېږي، بیا ولې خلک پرې بوخت ساتل کېږي؟

۲ مخ

### د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر وړاندې خنډونه او شکونه

۲ مخ

### هورمز تنګی څه دی او ولې مهم دی؟

۳ مخ

## په کندهار کې دوه لوی بندونه جوړېږي



د کندهار ولایت چارواکي وایي چې په دغه ولایت کې د میانکو او لوړې بندونه جوړېږي چې د کرنې د ودې او پراختیا په برخه کې ډېر مهم دي.
د اوبو او کرنې په برخه کې د ولسمشر سلاکار حمید هلمندی وایي، د کندهار د ارغستان ولسوالۍ د لوړې بند د سروې لپاره یو میلیون ډالر ځانګړي شوي دي. هغه زیاتوي، د دغه بند د سروې او ډیزاین چارې به د روان ۲۰۱۹ ز کال د اکتوبر په میاشت کې پیل شي.
د نوموړي په خبره، د سروې او ډېزاین چارو له بشپړېدو وروسته به د دغه بند پر جوړولو ۳۰ میلیونه ډالر ولګول شي چې هندوستان یې د ورکولو ژمنه کړې ده.
هلمندی وایي، د میانکو بند چې د ۵۰۰ میلیون مترمکعب اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري، د سروې او ډیزاین چارې یې بشپړې شوې او په نږدې راتلونکي کې به افغان حکومت د دغه بند د جوړولو لپاره بودجه ځانګړې کړي.

## سرچینې: ارګ پر صلاح‌الدین رباني د سفرونو بندیز لګولی دی

ولسمشر غني د استرالیا، قرغیزستان او قطر د نویو سفیرانو باور لیکونه منلي او هغوی بیا په مختلفو برخو کې له افغانستان سره د خپلو هېوادونو د همکاریو د ژمنتیا ډاډ ورکړی دی. دغه کتنې په داسې حال کې شوې چې د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر صلاح‌الدین رباني پکې حضور نه درلود.
له ارګه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ولسمشر محمد اشرف غني، تېره ورځ د افغانستان لپاره د استرالیا سفیر جیوفري پیټر تود، د قرغیزستان سفیر نیازاوف میراسلاو جمعه بیکویچ او د قطر سفیر مبارک الخیارین الهاجري باورلیکونه په ارګ کې د جلا جلا تشریفاتي مراسمو په ترځ کې منلي دي. په خبرپاڼه کې زیاته شوې، ولسمشر غني یادو سفیرانو ته د نویو دندو د مبارکۍ ترڅنګ، د افغانستان او استرالیا، قرغیزستان او قطر ترمنځ د اړیکو په پراختیا ټینګار کړی او دغه هېوادونه یې د افغانستان ښه همکاران بللي دي. بل لور ته یوې باوري سرچینې بیا پژواک اژانس ته ویلي چې په دې کتنو کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست صلاح‌الدین رباني د ارګ له خوا نه و بلل شوی او د هغه پر ځای د وزارت سیاسي مرستیال ادریس زمان حاضر و. سرچینه زیاتوي، له هغه راهیسې چې رباني د ولسمشریزو ټاکنو د کمپاینونو په پیل کې د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې په ټاکنیزه لومړنۍ غونډه کې ګډون وکړ، نو تر هغه وروسته د ارګ او رباني ترمنځ ترینګلتیا رامنځ ته شوې ده.
سرچینه کاږي، د همدې ترینګلتیا له امله د بهرنیو چارو پر سرپرست وزیر د سفرونو بندیز لګېدلی او هم د ملګرو ملتونو د اسمبلۍ په راتلونکې غونډه کې له ګډون کولو څخه منعه شوی دی.

## پامپیو: غواړو په افغانستان کې خپله پوځي مداخله کمه کړو



۵ مخ

## عبدالله: هیچ مقام امنیتی، حق جانبداری از نامزد مشخص را ندارد



رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی، وظیفۀ اصلی نیروهای امنیتی کشور را تأمین امنیت و مساعد کردن زمینۀ برگزاری انتخابات شفاف عنوان کرده و می گوید که هیچ مقام امنیتی، حق جانبداری از نامزد مشخص را ندارد.
عبدالله عبدالله رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی، که دیروز در نشست خبری در کابل صحبت می کرد، برگزاری انتخابات شفاف و عادلانه را مهم عنوان کرده و از نیروهای نظامی کشور خواست که بی طرفی‌شان را در انتخابات پیش رو حفظ کرده و وظایف شان را مطابق به قانون به پیش ببرند.
وی افزود: «هیچ نیروی امنیتی و دفاعی به شمول وزیر، معین، قوماندان و سرباز، حق مداخله در امور انتخابات را ندارند و وظیفۀ شان زمینه سازی برای برگزاری انتخابات شفاف مطابق به قانون است».
موصوف گفت که اگر نامزدی در شعار، خواستار بی طرفی نیروهای نظامی کشور در انتخابات شود؛ اما در عمل، توقع همکاری داشته باشد، نقض صریح قانون است.
عبدالله با تأکید بر بی طرفی و برخورد مسلکی پولیس گفت: «نیروهای نظامی حق دارند که رای بدهند؛ اما حق ندارند که مردم را وادار بسازند که به کدام طرف میل داشته باشند و به کی رای بدهند».
رئیس اجرایی حکومت، برگزاری انتخابات را چالش و امتحان بزرگ در پیش روی نیروهای نظامی کشور عنوان کرده و گفت امید که در این امتحان موفق شوند.
وی مبارزه با فساد اداری را در همه سکتورها مهم عنوان کرده و افزود که مبارزه با فساد اداری در سکتورهای امنیتی، از اهمیت خاص برخوردار است.




## دریځ

### چې ټاکنې نه کېږي، بیا ولې خلک پرې بوخت ساتل کېږي؟

ډېر ژر به په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لیک لاسلیک کېږي. له دې هوکړې وروسته به طالبان بین‌الافغاني خبرې پیلوي چې حکومت به هم د یوه سیاسي اړخ په توگه پکې برخه اخلي. د هوکړه لیک له مخې به بهرني ځواکونه په ټاکلې موده کې له افغانستان څخه وځي، خو د وتلو له پیل سره به یې طالبان اوربند هم کوي.

اوس چې د سولې پروسه بریالۍ روانه ده، طالبان د ټاکنو مخالف دي، خلک هم سولې ته لومړیتوب ورکوي او ټاکنې د سولې د تخریب هڅه هم گڼل کېږي، نو بیا ولې پر ټاکنو ټینگار کېږي؟ ولې خلک پر ټاکنو بوخت ساتل کېږي؟ ولې په دې برخه کې پیسې لگول کېږي؟

دا سمه ده چې ټاکنې یوازې د واکمن ټیم غوښتنه ده، ځکه دوی د خپل واک او ځواک د دوام لپاره همدا ټاکنې یوازینۍ لاره گڼي. دوی فکر کوي چې که ټاکنې وشي، دوی په دولتي پیسو او ځواک سره کولی شي پراخې درغلۍ وکړي او ټاکنې وگټي. په دې سره به دوی بیا د پنځو کلونو لپاره واکمنان وي. واکمن ټیم پر ټاکنو ټینگار کوي، خو دا ځل نه ورسره ولس ټاکنې غواړي او نه یې هم نړیوال ملاتړي غواړي چې ټاکنې وشي. خلک غواړي سوله وشي او له هغه وروسته پراخو، سراسري او عادلانه ټاکنو ته لاره برابره شي. د حکومت بهرني ملگري چې تل یې پرې تکیه کړې، هم نه غواړي چې ټاکنې وشي، ځکه دوی له طالبانو سره په خبرو کې دي او غواړي له دې لارې خپلې گټې او موخې تعقیب کړي.

که حکومتي چارواکي دا فکر کوي چې امریکایي لوری ټاکنې یو مخ نه هېروي، دا سمه ده، خو هغوی د ټاکنو له یادولو ځانگړې موخې لري او مطلب یې دا نه دی چې ټاکنې به کېږي او یا باید وشي. بهرنیان له یوه اړخه غواړي حکومت په تمه وساتي او یو ډول ډاډ ورکړي. له همدې امله د ټاکنو نوم اخلي او آن امریکا له ټاکنو سره دېرش میلیونه ډالره مرسته کړې ده. له بله اړخه د امریکا اصلي موخه د ټاکنو له یادولو دا ده چې پر طالبانو فشار راوړي. امریکا د ټاکنو په یادولو سره طالبانو ته بیا بیا دا پیغام ورکوي چې که دوی سوله نه کوي او په دې برخه کې له خپل دریځ څخه نه تېرېږي، نو ټاکنې به کېږي او طالبان باید پنځه کاله نور هم وجنگېږي.

رښتیا دا دي چې ټاکنې نه کېږي، ځکه له یوه اړخه خلک په ټاکنو کې برخه اخیستو ته زړه نه ښه کوي او دا د سولې پر وړاندې خنډ گڼي. له بله اړخه امریکا او ملگري یې هم د ټاکنو پر ځای له طالبانو سره سیاسي جوړجاړی غوره گڼي. حکومت ته پکار ده چې د خلکو د بې ځایه بوخت ساتلو پر ځای پر اصلي چاره تمرکز وکړي. ټاکنې نه کېږي، نه دې خلک بوخت ساتل کېږي او نه دې په دې برخه کې لگښت کېږي، بلکې اصلي تمرکز پر سوله دی. اوس د دې وخت دی چې د سولې چارې ته پوره پام وشي، په دې برخه کې شته خنډونه وپېژندل شي او د یوې رښتینې سولې لپاره د خلکو هڅې همغږې شي.

# د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر وړاندې خنډونه او شکونه

لیکنه: سمیع الله پیوند

له سیاسي پلوه اوسمهال افغانستان له دوو سترو او مهمو مسایلو سره مخ دی چې د خلکو ترمنځ د دواړو په اړه شکونه شتون لري. یوه یې ټاکنې او بله یې سوله ده. په دې لیکنه کې د سولې او ټاکنو پر لومړیتوب نه غږېږو؛ ځکه ټول پوهېږو چې واقعي سوله له ټولو نورو پروسو مهمه ده او د نورو ټولو سیاسي موضوعاتو په پرتله لومړیتوب لري.

په دې لیکنه کې یوازې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو اړوند بحث کېږي او هغه دلایل څرگندېږي چې د ټاکنو د تر سره کېدو شونتیا له شکونو سره مخامخوي، خو دا خبره باید واضح شي چې سره له دې چې داسې ډېر لاملونه شته چې موږ د ټاکنو په نه تر سره کېدو باوري کوي، خو په افغانستان کې سیاسي وضعیت تل د وړاندوینې وړ نه وي او پېښې دومره ژر بدلېدونکې وي، چې نه شو کولای د ټولو موضوعاتو په اړه مطلق نظر ورکړو، خو بیا هم ټولیز نظر دا دی چې گواکې راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې به د ځانگړو لاملونو له امله ونه شي. په دې برخه کې باید دوه ډوله (تخنیکي او سیاسي) لاملونه په پام کې ونیسو. تخنیکي لاملونه چې د راتلونکو ټاکنو د تر سره کېدو په اړه شکونه راولاړوي، درې ډوله دي؛ د بودجې نشتون، د نوماندانو کمرنگه کمپاینونه او پر ټاکنو د خلکو بې باوري ده. کوم تخنیکي لاملونه چې د ټاکنو د نه کېدو شکونه را زېږوي او دا یقیني کوي چې یا خو به ټاکنې ونه شي او که کېږي هم، په خپل وخت کېدنه یې له امکانه لرې برېښي.

لومړی تخنیکي لامل د بودجې اړوند موضوعات دي. څرنگه چې څرگنده ده د تېرو نږدې شپږ ځلو ټاکنو زیاته برخه بودجه او د ټاکنو لگښتونه د نړیوالو مرستندویانو له خوا برابر شوي، خو دا ځل په ټاکنو کې د بهرنیانو د بودجې برخه بېخي کمه ده، که څه هم دا یو ښه زېری کېدای شي چې ټاکنې موږ په خپلو پیسو تر سره کړو او د بهرنیانو له مداخلې یې وژغورو، خو په اوس وخت کې چې موږ د افغانستان اقتصادي حالت ته گورو، دا ډېره ستونزمنه ښکاري چې افغان دولت دې له خپلې بودجې د ټاکنو لوړ لگښت ورکړي او دا موضوع به هله بیا ډېره ستونزمنه کېږي چې که ټاکنې دویم یا آن درېیم پړاو ته ځي. په دې برخه کې یوه بله ستونزه هم شته چې باید په پام کې ونیول شي. که حکومت د دغه بودجې د برابرولو جوگه هم وي، خو تر اوسه د ملي شورا لخوا د ټاکنو بودجه نه ده تصویب شوې او دا په داسې حال کې ده چې ټاکنو ته د گوتو په شمېر ورځې او شپې پاتې. که د پارلمان لخوا بودجه تصویب هم شي، د افغانستان د مالي سیستم د بېروکراسۍ په پام کې نیولو سره، د ټاکنو کمېسیون به ونه توانېږي چې تر راتلونکې یوې میاشتې بودجه په اختیار کې ولري، چې دا کار پخپله د نورو چارو د خنډ لامل کېږي.

بله تخنیکي موضوع چې د ټاکنو د تر سره کېدو په اړه شکونه زیاتوي، له ټاکنیزو مبارزو سره د نوماندانو نه لېوالتیا ده. دا دي یوه اونۍ وشوه چې د ټاکنیزو مبارزو وخت پیل شوی، خو تر دې مهاله یوازې څو نوماندانو په کابل کې خپلې ټاکنیزې مبارزې پیل کړې، په کابل کې هم د ټاکنو مبارزې بېخونده ښکاري، په ډېرو ولایتونو کې لا تر اوسه هېڅ د ټاکنیزو مبارزو څرکونه نه لیدل کېږي. که وي هم، د یو نوماند یا دوو نوماندانو یو څو تصویرونه نه شي کولای خلک په ټاکنو کې برخه اخیستو ته وهڅوي. د دې تر څنگ چې ټاکنیزې مبارزې کمرنگه دي، خپله د ولسمشرۍ ډېری نوماندان هم پر دې باور دي چې د ټاکنو تر سره کېدل به ممکن نه وي او هماغه دي چې په دې برخه کې لگښتونو ته زړه هم نه ښه کوي، نو په داسې حال کې چې خپله نوماندان د ټاکنو پر تر سره کېدو باور نه لري، عام ولس به څنگه دا باور وکړي؟ لنډه دا چې ډېری خلک پر دې نظر دي چې ممکن ټاکنې تر سره نه شي او که تر سره هم شي، د باور وړ به نه وي.

که تېرو ولسمشریزو ټاکنو ته وگورو، خلکو له مینې پورته د حماسې په شکل په ټاکنو کې برخه واخیسته، خو پایلو ته په کتو، داسې ذهنیت رامنځته شوی دی چې گواکې رایه ورکول ارزښت نه لري. دا ډول په دې وروستیو کې د پارلماني ټاکنو تر سره کېدل او اړوندې ستونزې او د درغلیو ادعاگانو ډېری خلک ناهیلي کړي دي او ستونزمنه به وي چې خلک بیا پر ځان مشکلات وگالي او په لېوالتیا سره د رایو صندقونو ته ورشي. د نوماندانو ژمنې چې تر سره نه شوې، دا بل لامل دی چې د خلکو بې باوري زیاتوي؛ ځکه داسې یو احساس رامنځته شوی چې ټاکنې یوازې قدرته د رسېدو په وسیله بدلې شوې او هېڅ ډول اخلاص او خدمت پکې نشته. د ټاکنو د ورځې تخنیکي ستونزې، د ټاکنیزو مرکزونو ناامني، د درغلیو او تقلب هڅې هغه څه دي چې خلک یې د ټاکنو پر وړاندې شکمن کړي دي.

که له پورته تخنیکي ستونزو راتېر شو، نو سیاسي بدلونونو او بهیرونو هم د خلکو او نوماندانو ترمنځ د ټاکنو د تر سره کېدو په برخه کې جدي شکونه رامنځته کړي دي. په دې برخه کې د سولې روان بهیر او دا چې امریکایي او طالب لوری هوکړې ته نږدې شوي، داسې یو فکر رامنځته کړی دی چې که سوله راځي، نو ټاکنې به حتمي ځنډېږي او ځینې شنونکي پر دې باور دي چې که ټاکنې تر سولې مخکې تر سره کېږي، نو باید جگړه پنځه کاله نور هم دوام وکړي. له همدې امله ډېری افغان سیاستوال، د مدني ټولنو غړي، ځوانان او قومي مشران پر دې باوري دي چې که ټاکنې د سولې خنډ کېږي، باید هېڅ تر سره نه شي او حکومت دې سولې ته لومړیتوب ورکړي. پخپله د زلمي خلیلزاد خبرې هم چې د سولې او ټاکنو په اړه یې کړې، په ښکاره توگه دا بیانوي چې امریکایانو ته د سولې مسئله مهمه ده او غواړي ژر په دغه برخه کې پرمختگ وکړي. داسې خبرونه هم شته چې شاید د څو ورځو په ترڅ کې د امریکایانو او طالبانو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک شي، نو کله چې د سولې هوکړه لیک لاسلیک کېږي او طالبان په نظام کې را گډېږي، نو بیا خو دلته د ټاکنو د تر سره کېدو هېڅ چانس نه تر سترگو کېږي.

خو که د ټولو پورتنیو احتمالاتو سره سره، افغان حکومت وغواړي چې پر خپل دریځ د ټینگار په ترڅ کې ټاکنې وکړي، نو بیا به یو بل ډول بحران ته لاره هواره شي. تر ټولو لومړی خو به د ناامنۍ له امله څرنگه چې مو په تېرو پارلماني ټاکنو کې ولیدل، د هېواد پر نږدې له ۴۰ تر ۵۰ سلنه خاوره کې ټاکنې ونه شوې او ممکن د ولسمشرۍ ټاکنو کې دا فیصدي نوره هم را کمه شي، نو کله چې ټاکنې کېږي او د هېواد ۴۰ سلنه وگړي پکې گډون ونه شي کړای، دا ډول ټاکنې به په نړیواله سطحه د رواني مشروعیت له پلوه د منلو وړ نه وي، ځکه د ټاکنو د سراسرۍ اصل پکې تر پښو لاندې کېږي. د ثبوت لپاره کولای شو یوه ډېره څرگنده بېلگه وړاندې کړو.

په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې په لویه پکتیا (خوست، پکتیا او پکتیکا) ولایتونو کې له یو میلیون زیاته رایه کارېدلې وه، خو په تېرو پارلماني ټاکنو کې دا شمېر نږدې یولک او پنځوس زرو ته راښکته شو، چې دا یو لوی توپیر دی، سره له دې چې په لویه پکتیا کې قومي جوړښتونه او د خپلوۍ سیستمونه ډېر پیاوړي دي او ډېری خلک له پارلماني نوماندانو سره د ملگرتیا، خپلوۍ او قومي اړیکو پر اساس د رایې مرکزونو ته لاړل، بیا هم د رایه ورکوونکو کچه ډېره ټیټه وه، خو په راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو کې چې په اړه یې په لسگونو شکونه هم شته، ممکن د رایه ورکوونکو شمېره نوره هم راټیټه شي.

کله چې له دې ټولو ستونزو سره بیا هم ټاکنې وشي، لویه ستونزه د پایلو منل دي. اوسنیو حالاتو په کتو سره یو نوماند هم چمتو نه دی، چې په ټاکنو کې خپله ماتې ومني، درې یا څلور خو ډېر پیاوړي ټاکنیز ټیمونه دي او په زیات احتمال سره چې دوی به خپله ماتې ونه مني او د ټاکنو پایلې به بحران ته ولاړې شي. د تېرو ټاکنو د پایلو نه منلو خو د اجرایه ریاست په نوم جوړښت رامنځته کړ او نابریالی نوماند هم قدرت ته ورسېد، دغه تجربې ته په کتو سره کېدای شي، دا ځل بحران نور هم شدید وي. د ټاکنو د کمېسیونونو مدیریتي کمزورتیا او د درغلیو تورونه به د پلمې په توگه وکارول شي.

## <u>ولسمشر غني:</u> د سولې په روانه پروسه کې د اسلامي جمهوریت پر سر معامله نه شي کېدای

په قطر کې د افغان سولې په تړاو د خبرو د اتم پړاو له پیل سره سم، ولسمشر غني ویلي، د سولې په پروسه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت پر سر معامله نه شي کېدای.

هغه دغه راز د افغانستان دفاعي او امنیتي ځواکونو ته سپارښتنه کړې چې په اوازو پسې دې نه گرځي او د سولې د مذاکرو تر پیل پورې دې د دښمن پر ځپلو تمرکز وکړي.

غني ویلي: «پر گډه اعلامیه موافقه شوې، په دې اعلامیه کې د نړیوالې ټولنې اساسي شریک د افغانستان اسلامي جمهوریت او د افغانستان دفاعي او امنیتي ځواکونه دي، ټول پوهېږي چې له دې ځواکونو پرته به سیمه او نړۍ له بحران سره مخامخ شي، له دې امله موږ



بشپړ ډاډ لرو چې له نړیوالو سره زموږ ټول تړونونه به پر ځای وي».

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان نړیوال شریکان د سولې لپاره په خبرو کې مکرراً د وروستیو تقریباً دوو لسیزو د پرمختگونو پر خوندي ساتلو ټینگار کوي.

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ د جمعې په ورځ په بروکسل کې په دې

اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي: «موږ د ټولو هڅو هرکلی کوو، موږ د بین‌الافغاني خبرو د پیل کلک ملاتړ کوو، ځکه د افغانستان حکومت باید د سولې د پروسې برخه وي، موږ باید هره هغه هڅه وکړو چې موږ هغه پرمختگونه وساتو چې په افغانستان کې شوي، چې افغانستان بیا د نړیوالو تروریستانو مرکز نه شي».

سټولټنبرگ ویلي چې له طالبانو سره د امریکا د خبرو هرکلی کوي، خو لا هم ډېرې ستونزې په مخکې پرتې دي چې باید حل شي.

د ناټو عمومي منشي په افغانستان کې د ناټو د ځواکونو د راتلونکې په اړه ویلي چې دوی به د امریکا له متحده ایالاتو سره په گډه په مناسب وخت کې د خپلو عسکرو د برخلیک پرېکړه کوي.

خو د وسله والو طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین رسنیو ته په استولي پیغام ویلي: «که توافقنامه نهایي شي، له مخې به یې په ټاکلې موده کې ټول بهرني پوځونه له افغانستانه وځي او هم به له افغاني جهتونو سره مذاکراتو ته لاره خلاصه شي».

# هورمز تنگی څه دی او ولې مهم دی؟

بي بي سي- پښتو

هورمز تنگی په خلیج کې د بېړیو د تگ راتگ یوه نرۍ لار ده چې په دې وروستیو کې ډېرې نانډرۍ پرې روانې دي. اوس د برېټانیا دوې شاهي جنگي بېړۍ په خلیج کې د هغو بېړیو د خوندیتوب لپاره ځای پر ځای شوې دي، چې د برېټانیا بیرغ پرې رپېږي.

خو پوښتنه دا ده چې سمندري لارې څه دي او ولې مهمې دي؟

**هورمز تنگی**

سره له دې چې هورمز تنگی د اندازې له مخې کوچنی دی، خو په نړۍ کې د بېړیو یوه مهمه لاره ده.

دا لاره نږدې ۹٦ میله اوږدوالی لري او په تر ټولو تنگه برخه کې یوازې ۲۱ میله سور لري چې هر لور ته غځېدلې د بېړیو لارې یې یوازې دوه میله پراخې دي.

هورمز تنگی شمال ته د ایران له خاورې سره نښتی او په سوېل کې د عمان او متحده عربي اماراتو له خاورو سره. دا تنگی خلیج له عرب سمندرگي سره نښلوي.

دغه تنگی د نړۍ په کچه د خامو تېلو د تر ټولو سترو ټانکرونو د تېرېدو لپاره هم په کافي اندازه ژور دی او په منځني ختیځ کې د تېلو او گازو ستر تولیدوونکي او د دوی مصرفوونکي دواړه ترې کار اخلي.

همهاله په لسگونو ټانکرونه دغه تنگي ته ور روان وي او یا ترې تېرېږي.

**له دغه تنگي څومره تېل تېرېږي؟**

تېر کال د نړۍ د ټولو تېلو پنځمه برخه، په ورځ کې ۲۱ میلیونه بېرله تېل له هورمز تنگي تېر شوي وو. دغه راز په ۲۰۱٦ ز کال کې دغه تنگی د تېلو تر ټولو بوخته سمندري لار وه.

په ورځ کې ۱۹ میلیونه بېرله تېل ترې تېر شوي، له شپاړسو میلیونو ډېر په ورځ کې له مالاکا تنگي تېر شوي چې هغه په هند سمندر کې مهمه سمندري لار ده.

د دغو په پرتله یوازې پنځه یا شپږ میلیونه بېرله په ورځ کې له سویز کانال او یا هم د سور سمندرگي له باب المندب څخه تېر شوي دي.

هورمز تنگی په خلیج کې د تېلو د سترو صادروونکو لپاره چې اقتصادونه یې پر تېلو او گازو ولاړ دي، مهم او حیاتي تنگی دی.

په ۲۰۱۸ ز کال کې سعودي عربستان په ورځ کې نږدې ٦.۴ میلیونه بېرله تېل له دغه تنگي واستول، په داسې حال چې عراق له ۳.۴ میلیونو ډېر، متحده عربي اماراتو نږدې ۲.۷ میلیونه بېرله او کوېټ له دوو میلیونو بېرلو ډېر له دې لارې واستول.

ایران هم تر ډېره د خپلو تېلو د صادراتو لپاره پر همدې لار تکیه کوي.

قطر چې د اوبلن طبیعي گاز تر ټولو ستر صادروونکی هېواد دی، نږدې ټول گاز د همدغه تنگي له لارې صادروي.

په دې وروستیو کلونو کې دا تنگی لا ډېر د اسیایي اقتصادونو لپاره مهم شوی دی.

په ۲۰۱۸ ز کال له دې لارې ډېر تېر شوي تېل چین، جاپان، سوېلي کوریا او هند ته تللي. د امریکا متحده ایالتونو هم په ورځ کې له ۱.۴ میلیونو بېرلو ډېر تېل له دې لارې وارد کړي.

برېټانیا هم له خلیج واردوونکي تېل له هورموز تنگي تېروي او د اوبلن طبیعي گاز نږدې درېیمه برخه هم له دې لارې ورځي.

**د تېلو نورې لارې**

هورمز له خلیج د تېلو د ډېرې لوړې کچې د لېږد تر ټولو ښه لار ده او د سمندر له لارې خو دا یوازینۍ لار ده.

ځینې ځمکنۍ نللیکې هم شته چې تېل لېږدوي.

د سعودي یوه نللیکه سور سمندرگي ته ځي او په ورځ کې د نږدې پنځو میلیونو بېرلو تېلو د لېږد ظرفیت لري.

ابوظبۍ هم یوه نللیکه لري چې په ورځ کې نږدې ۱.۵ میلیونه بېرله تېل له هورموز تنگي هاخوا ساحل ته رسوي. بله نللیکه بیا د عراق تېل د مدیترانې ساحل ته لېږدوي.

خو دا نللیکې په پوره ظرفیت کار نه کوي.

دا نللیکې هومره تېل نه شي لېږدولی لکه بېړۍ یې چې لېږدوي.

**ایران پر هورمز تنگي څومره واک لري؟**

د ملگرو ملتونو د قوانینو له مخې، هېوادونه اجازه لري چې له خپلو سواحلو ۱۲ سمندري میله (۱۳.۸ میله) لرې په سمندر کې خپل واک وچلوي.

د دې مانا دا ده چې د تنگي په تنگه برخه کې د بېړیو د تگ راتگ لارې ټولې د ایران او عمان په قلمرو کې تېرېږي.

خو له دې سره سره، نړیوال کنوانسیونونه د پوځي کښتیو په گډون، بېړیو ته د دولتي قلمرو اوبو کې د تېرېدو حق ورکوي.

ایران ته اجازه ورکړل شوې چې د خپل قلمرو اړوند اوبو کې عمل وکړي، خو د بهرنیو کښتیو د تېرېدو د حق په بیه نه. امریکا متحده ایالتونو اوس په سیمه کې خپل پوځ ډېر کړی. خو وېل کېږي چې نور هېوادونه هم د خلیج او دغې سیمې په ساتنه کې ونډې اخیستو ته لېوال دي.

برېټانیا هم له هورمز تنگي د تېرېدونکو هغو بېړیو لپاره سمندري گزمه او ملاتړ برابروي، چې د دغه هېواد بیرغ پرې رپېږي.

# د قطر مذاکرات؛

## طالب پلاوی: پر اوربند او اصلاحاتو په بین‌الافغاني مذاکراتو کې خبرې کېږي



په قطر کې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې لا هم روانې دي. تېرې دوې ورځې دواړو لورو اتم پړاو مذاکرات وکړل او مثبتو پایلو ته هیله من دي. طالب سرچینې وایي، دوی هیله لري چې دا ځل وکړی شي له امریکا سره نهایي توافق لاسلیک شي او د بهرنیو ځواکونو وتل پیل شي.

په قطر کې د طالبانو د مذاکراتي ډلې غړي وایي، همدا چې له امریکا سره هوکړه لاسلیک شي، نو ورپسې جوخت بین‌الافغاني مذاکرات پیلېږي او په هغه کې پر ډېرو مواردو بحثونه شامل دي.

د طالبانو د قطر سیاسي دفتر وایي، له امریکا سره د سولې تر توافق وروسته به بهرني ځواکونه د مهالوېش له مخې په بشپړ ډول له افغانستانه وځي. د طالبانو د قطر دفتر د مرکچي پلاوي غړی مولوي شهاب الدین دلاور وایي، له امریکا سره تر هوکړې وروسته بین‌الافغاني مذاکرات پیلوي، چې له افغان حکومت سره به د یوه سیاسي جهت په توگه خبرې کېږي او اوربند هم د اجنډا یوه برخه ده. طالبان د امریکا له ټینگار سره سره لا هم وایي چې له افغان حکومت سره د یوه سیاسي جهت په توگه خبرې کوي، نه د حکومت په توگه.

بل پلو تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي وو، چې اوربند له طالبانو سره د هوکړې برخه ده، خو اوس طالب پلاوی وایي چې پر اوربند به په بین‌الافغاني مذاکراتو کې خبرې کېږي.


د طالبانو د مرکچي پلاوي غړی مولوي شهاب الدین دلاور وایي، د سولې توافق به د نړیوالو شاهدانو په حضور کې اعلانېږي، چې تر هغې وروسته به له ټاکل شوي مهالوېش سره سم په بشپړ ډول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. نوموړی وایي: ((موږ تمه لرو چې د مذاکراتو دا مرحله بریالۍ شي. دا بریالۍ کېږي همدا چې توافق وشي، نو امریکایي عسکر او ټول ائتلافي ځواکونه او مشاورین به له افغانستانه وځي. دوی به مهالوېش ته په کتو له دې ځایه په بشپړه توگه وځي)).

د طالبانو د قطر دفتر وایي، له امریکا سره د سولې تر هوکړې وروسته، له افغان سیاسي جهتونو سره بین‌الافغاني مذاکرات پیلوي، چې افغان حکومت به هم د یو سیاسي جهت په توگه په دې خبرو کې ونډه اخلي. طالبان وایي، اوربند، د اسلامي نظام رامنځ ته کېدل او د اساسي قانون تعدیل د بین‌الافغاني مذاکراتو د اجنډا برخه ده. دلاور وایي: ((په بین‌الافغاني مذاکراتو کې به د اجنډا برخه اوربند هم وي. په اړینو اصلاحاتو او نورو مسایلو چې توافق وشي، بیا اوربند څه جگړه به هم د تل لپاره له هېواده ورکه شي)).

که له یوې خوا په قطر کې د طالبانو او امریکا خبرې د بریا په درشل کې دي، خو بلخوا دلته په کابل کې د بین‌الافغاني مذاکراتي ټیم پر سر اختلافات روان دي. ټاکل شوې وه چې افغان حکومت پنځلس کسیز ټیم له طالبانو سره د خبرو لپاره جوړ کړي، خو د سرچینو په خبره، په دې ټیم کې ۱۲ کسه د حکومت غړي او درې نور سیاسیون دي. پر همدې مسئله د سیاسیونو او افغان حکومت ترمنځ اختلافات دي او په دې ټیم کې د انډول ساتلو غوښتنه کوي.

د افغان سولې په تړاو له وروستیو پرمختگونو په داسې حال کې خبر ورکول کېږي، چې تازه د ناټو عمومي منشي هم ویلي چې له متحده ایالاتو سره به په گډه په افغانستان کې د خپلو سرتېرو د برخلیک په اړه پرېکړه کوي.

# د امریکا په ټکزاس او اوهایو ایالتونو کې ۲۹کسان وژل شوي




د امریکا د اوهایو ایالت په ډیټون ښار کې یو وسله وال کس په ډزو نهه تنه وژلي او ۱٦ نور یې ټپیان کړي دي.

رویټرز خبري اژانس د ډیټون ښار د پولیسو په حواله ویلي، چې دغه پېښه پرون رامنځته شوې ده.

بلخوا د ډیټون پولیسو په خپل ټویټر لیکلي چې د برید له پیل سره سم سیمې ته رسېدلي او برید یې ژر مهار کړی دی.

دوی دا هم ویلي چې بریدگر وژل شوی، خو د نوموړي د هویت په اړه یې معلومات نه دي ورکړي.

د ډیټون ډیلي نیوز په نوم یوې بلې امریکایي رسنۍ هم د پولیس چارواکو په حواله ویلي، چې دغه پېښه پر ځایي وخت یوه بجه او ۲۲ دقیقې د اورجیون په یوه تاریخي سیمه کې رامنځته شوې ده.

پولیسو ویلي چې فدرالي اداري (اېف بي آی) په دې اړه څېړنې پیل کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې دغه پېښه د امریکا د ټکزاس ایالت په «والمارت» مغازه کې تر مرگونې پېښې ۲۴ ساعته وروسته رامنځته شوې ده.

د شنبې په ورځ د ټکزاس ایالت د ال پاسو ښار په «والمارت» مغازه کې هم یو وسله وال کس په ډزو ۲۰ تنه وژلي او ۲٦ نور یې ټپیان کړي وو.

د ټکزاس پولیسو ویلي چې د پېښې په تړاو یې د پاتریک کروسیوس په نوم ۲۱ کلن سپین پوستی ځوان نیولی چې ویل کېږي د دالاس سیمې اوسېدونکی دی.

د ال پاسو ښار پولیسو ویلي چې له نیول شوي کس څخه څېړنې روانې دي.

د پولیسو مشر گرېک الن ویلي چې پولیسو یو انلاین پوست تر لاسه کړی چې پکې دغه مشکوک کس پر اسپانیوي نژادو د برید نیت څرگند کړی دی.

په ورته وخت کې د امریکا په کانگرېس کې د ټکزاس استازي جکوین کاسترو په یوه اعلامیه کې ویلي: «د اسپانوي الاصله امریکایانو پر ضد دا ترهگریز برید د نژادي توپیرونو د افکارو زېږنده ده».

دغه راز د مکسیکو جمهور رییس اندرس مانویل لوپیز اوبرادو هم ویلي چې په دغه برید کې درې مکسیکویان وژل شوي او شپږ تنه نور ټپیان دي.

ولسمشر ټرمپ هم په یوه ټویټ کې دغه برید غندلی او دا یې یوه وحشتناکه پېښه بللې ده.

تر دغه برید وروسته د ال پاسو ښار روغتیایي چارواکو ویلي، چې د ځینو ټپیانو روغتیایي حالت نازک دی او ښایي د مرگ ژوبلې کچه تر دې هم لوړه شي.

ال پاسو ښار چې د مکسیکو له واریز ښار سره گډه پوله لري، شاوخوا ٦٨٠ زره اوسېدونکي لري.

## د کتاب خبرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اغامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

**له سوله پېزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره**




**عرب انقلابیان**

په ۱۹۸۰ز لسیزه کې په زرګونو عرب اسلام پال بنسټپال له عربي نړۍ او له سویل ختیځې اسیا څخه پاکستان ته راغلل چې د روسانو پر وړاندې په افغانستان کې له افغان مجاهدینو سره مرسته وکړي. هغوی په شمال لویدیځ سرحدي ولایت کې شبکې پرانیستې، د افغانستان طرف ته یې دېیورنډ کرښې پر څنډو کې اډې جوړې کړې چې له ډلې یې د بېلګې په توګه د پکتیا ولایت د ځاځیو ولسوالۍ او د ننګرهار ولایت غرنۍ توره بوړه یادولای شو. د دې کمپونو نومونه په عربي ژبه وو، د بېلګې په توګه الماساده یانې (د زمریانو ځای).

د القاعدې طرحه د یوې نړیوالې جهادي ډلې په توګه د لومړي ځل لپاره د ۱۹۸۰ز لسیزې په وروستیو کې د پاکستان په پېښور کې وړاندې شوه. تر ۱۹۹۸ز کال پورې القاعدې یو رسمي سازماني جوړښت شو چې د نړۍ په هر ځای کې یې افراطیان استخدامولای شوای. هماغه کال، اسامه بن لادن او ایمن الظواهري د افغانستان له خوست ولایت څخه د القاعدې موخې اعلان کړې. دې بهرنیو عناصرو د پښتنو په سیمو کې د جهاد لوری او موخې بدلې کړې. د القاعدې لومړۍ موخه دا وه چې لومړی باید هغه لیرې دښمن په نښه شي چې نږدې دښمن حمایه کوي، مطلب یې له دې خبرې دا و چې د عربو، د نورو اسلامي هېوادونو او اسراییلو ملاتړ له غرب څخه کېږي.

که څه هم القاعده ډله د پښتنو په سرحدي سیمو کې را پیدا شوه، خو تر پایه یې مشري کوم پښتون کس ونکړه. د پښتنو په سیمو کې جګړو د نړیوال جهاد مشران او طرحه کوونکي را پیدا کړل. فلسطیني عالم عبدالله عزام، الظواهري او بن لادن هم د همدې سیمو په جګړو کې مطرح شول. عربان د افغانستان په جهاد کې ډېر ښکېل وو. په پای کې، هغوی له افغانستان څخه د روسانو له وتلو وروسته هم د پښتنو په سیمو کې پاتې شول. هغوی په ۱۹۹۰ز لسیزه کې د جهاد دوهمه څپه هم وهځول. داوطلب او نوو مسلمان شوو کسانو د نړیوال جهاد په اډانه کې له چیچنیا، مرکزي اسیا، چین، ترکمنستان، سویل ختیځې اسیا او اروپا څخه ګډون کړی و چې مشري یې عربانو کوله.

«پښتانه» تر بل هر چا د «نړیوال جهاد» په برخه کې «تاواني» وو. د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د پښتنو په ټولنه او سیاست کې جوړښتي بدلونونه راغلل. عصري او سېکولر ملت پال پښتانه له قومي مشرانو، پوهانو او د شاهي نظام له مخکښو پلویانو سره یو ځای شول. دا ملت پال کادرونه له مسلمانو محافظه کارو سره د برېټانوي مستعمرې پر ضد یو ځای شول، خو د سیاسي ارزښتونو په اړه یې فکري واټن لاره. افغان او پاکستاني اسلام پالو بنسټپالو د لېبرالو بنسټونو مخالفت کاوه، د بېلګې په توګه هغوی د ملي دولت، انقلاب، سیاسي اېډیولوژي، سیاسي ګوندونو او پرمختیا مخالف وو.

په معاصر تاریخ کې جګړو د بشر په تاریخ کې خلک تر ټولو ډېرې کډوالۍ ته اړ ویستل چې تر ټولو لوی زیان یې هم پښتنو ته رسېدلی. پښتانه د نورو نژادونو په پرتله په افراطیت کې ډېر نه دي ښکېل. په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ز لسیزو کې د پاکستان په امنیتي ادارو کې ورته پالیسۍ لویه اندېښنه وه. د پوځ جنرالانو او د استخباراتو مشرانو، جنرال ضیاء الحق، اسلم بېک او حمید ګل یې په ښکاره ملاتړ کاوه.

ډېرو پښتنو مشرانو راته ویلي چې اصلي ستونزه د پاکستاني پوځ له لوري پښتنو ته په سپکه سترګه کتل دي. په افغانستان کې جګړه د پاکستان لپاره یو طلایي فرصت شو چې له مخې یې وکولای شول ملت پال پښتانه کمزوري کړي. د اسلاماباد له پان اسلامېزم څخه ملاتړ د دې لامل شو چې د پښتون اسلامېزم پر نوم نوی غورځنګ جوړ کړي. په افغانستان کې طالبان واک ته ورسېدل، قومي اړیکې هم له پان اسلامېزم سره وتړل شوې.

پر پښتون اسلامېزم د پاکستان د لسیزو پانګونې په پایله کې هغوی د ځان پر وړاندې د پښتنو ملت پال ګواښ کم کړ، خو په پایله کې یې ځینې متضادې پایلې هم ولرلې چې د پاکستان امنیت او پرستیژ ته یې زیان واړاوه. دا تضادونه دومره لوی شول چې اوس د پاکستان موجودیت او ژوند ګواښي. د یوه ملي دولت په توګه پاکستان له القاعدې او طالب افراطي راډیکال عناصرو سره پر مستقیمه جګړه بوخت دی. دا ډلې په دې وروستیو لسیزو کې دومره ځواکمنې شوې چې غواړي په ټولیزه توګه د پاکستان له اوسني په نامه اسلامي دولت څخه یو سوچه اسلامي دولت جوړ کړي. د جینوا د تړون په ترڅ کې روسان له افغانستان څخه د ۱۹۸۹ز کال تر فبرورۍ میاشتې ټول ووتل. د روسانو له وتلو سره سم واشنګټن او مسکو خبرې پیل کړې او داسې یوې هوکړې ته ورسېدل چې د ټاکنو په ترڅ کې واک ولېږدول شي. د جینوا د تړون له مخې لا هم د هغه مهال روس پلوه کمزوری حکومت په واک کې و، خو نور له افغانستان څخه روسي سرتېري وتلي وو.

واشنګټن او مسکو کوم ځانګړې پایلې ته ونه رسېدل، جګړې دوام پیدا کړ چې په پایله کې یې افغان حکومت ړنګ شو. پاکستان او امریکا د روسیې ضد پالیسي مخکې وړه. هغوی د حکومت پر ځای د افغان مجاهدینو ملاتړ کاوه. ډېری افغانان پر دې باور وو چې د روسي ځواکونو له وتلو سره نور جهاد پای ته رسېدلی و، ځکه نو امریکایانو او پاکستان د جهاد پر ملګرو سلفي عربو جنګیالیو تکیه کوله. د پاکستان او امریکا دغه ډول ناسمه پالیسي د دې لامل شوه چې په افغانستان کې د عصریتوب را پیل شوې یوه پېړۍ له خاورو سره خاورې شوه.

**دوام لري...**

# ایران

حشمت الله نوري

ایران د افغانستان لویدیځ ته د لوېدیځې اسیا په منځنې ختیځ کې د شمالي عرض البلدونو د ۲۵ او ۴۰ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۴۵ او ٦۷ درجو تر منځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ٦۳٦۲۹٦ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ شپاړلسم لوی هېواد بلل کېږي.

د ایران شمال ته ترکمنستان، ارمنستان او آذربایجان، جنوب ته یې د فارس او عمان خلیجونه، ختیځ ته یې افغانستان او پاکستان او لویدیځ ته یې ترکیه او عراق پراته دي.

د دغه هېواد اقلیم په عمومي توګه وچ او بري دی، خو د کسپین سمندرګي په څنډو کې یې هوا لنده او باراني ده. د دغه هېواد په آذربایجان، خراسان، کردستان او نورو ټولو لوېدیځو سیمو کې هوا توده او په منځنیو برخو کې ښه او لږ توده ده.

د ایران نږدې ۹۰ سلنه خاوره د سمندر له سطحې څخه ۱۲۰۰ متره لوړه ده. ایران یو غرنی هېواد دی چې سمه نیمایي خاوره یې غرونو نیولې ده. ډاګونه دویمه درجه او د کرنې وړ ځمکه په کې دربیم ځای لري.

د دغه هېواد پلازمېنه تهران ښار دی او ټولټال یې نفوس څه باندې ۸۲ میلیون کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع کې سیمه کې یې ۵۱ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

ایران د اداري وېش له پلوه پر ۳۱ ولایتونو وېشل شوی دی. مشهد، اصفهان، تبریز، شېراز، قم، باختران او ارمیه یې مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد څه باندې ۹۸ سلنه خلک مسلمانان دي او پاتې نور یې د مسیحي، زردشتي او یهودي مذهبونو پالونکي دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی، اوسنی اساسي قانون یې په ۱۹۷۹ ز کال کې نافذ شوی او په ۱۹۸۹ ز کال کې په کې لږ تعدیلات راغلي دي. د دغه هېواد اوسنی دیني مشر ایت‌الله سید عالي حسیني خامنه ای او ولسمشر یې حسن روحاني دی، چې دیني مشر یې د ټول عمر لپاره ټاکل کیږي.

د ایران د کابینې غړي د ولسمشر لخوا د پارلمان په منظورۍ ټاکل کیږي. د دغه هېواد ستر دیني مشر ولسمشر ته په ځینو مهمو ټاکنو کې مشورې ورکوي، د ایران نوی اساسي قانون د دغه هېواد د ولسمشر دریځ پیاوړی کړی او د لومړي وزارت څوکۍ یې له منځه وړې ده. د دغه هېواد ستر دیني مشر د ټول عمر لپاره د علماوو شورا لخوا او ولسمشر د څلورو کلونو لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کیږي.

د ایران پارلمان یوه جرګه شورا یې اسلامي لري. د دې جرګې ۲۹۰ غړي د خلکو په رایه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي. د دغه هېواد د اسلامي شورا پرېکړه د اسلامي انقلاب د ساتندویه شورا له تایید وروسته، قانوني بڼه غوره کوي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول په کې عمومي دي.

د ایران قضایي سیسټم د سترې محکمې او لوړ پوړي څلور کسیزه قضایي پلاوي لخوا اداره کیږي. له دې وروسته د روحانیونو محکمه، د انقلاب محکمه او ځانګړې اداري محکمه راځي.

د ملي اعتماد ګوند، اسلامي موتلقه ګوند، د جوړولو د ګوند فعالین او د اسلامي انقلاب د مجاهدینو ټولنه د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

د ایران په اقتصاد کې دغه عناصر څنګ په څنګ فعال دي او کار کوي: داسې دولتي سکټور چې ډېر اغېزمن نه دی، د تېلو او نورو غټو تولیدي او خدماتي شرکتونو دولتي مالکیت، د تېلو پر عوایدو ډېره اتکا، مخ پر وده خصوصي سکټور چې د وړو او منځنیو فابریکو، کرنیزو فارمونو او خدماتو مالکیت او اداره یې په لاس کې ده او کلیوال کرنیز چاپېریال.



ایران سره له دې چې د امریکا او ځینو نورو هېوادونو له پرله پسې اقتصادي بندیزونو سره مخ دی، بیا هم په مخ روان دی او اوس د سیمې یو اقتصادي ځواک بلل کیږي. د ایران یو ولسمشر رفسنجاني هڅه وکړه چې په ایران کې د اقتصاد خصوصي سکټور وهڅوي او د دې لپاره یې ځینې اداري او حقوقي اسانتیاوې وړاندې کړې. له ده وروسته نورو ولسمشرانو خاتمي او محمود احمدي نژاد هم پر دې لاره لاړل او هڅه یې کوله چې د دولتي اقتصاد تر څنګ، خصوصي سکټور هم خپل ځای پیدا کړي.

په ۱۹۹۹ ز کال کې د ایران ناخالص کورنی تولید ۳۱۸ بلیون ډالره و، دا رقم په کال ۲۰۱۰ کې ۸۱۸ بلیون ډالرو ته لوړ شو، دا رقم ثابتوي چې د ایران اقتصاد د امریکا له بندیزونو سره سره په مخ روان و، خو وزګارتیا، لوړ انفلاسیون، په اټومي بټیو او په سیمه او نړۍ کې د ایران د رژیم سیاسي لګښتونه د ایران پر اقتصاد درانده بوجونه شمېرل کېږي.

سره له دې چې د ایران اقتصاد متنوع دی، خو د تېلو پر عوایدو ډېره اتکا ایران له یو ډول نوسان سره مخ کړی دی. کله چې په نړۍ کې د تېلو بیې لوړې وي، د ایران عواید زیات شي، خو کله چې بیې ټیټې شي، د ایران عواید هم کم شي.

دغه هېواد د خپلو اټومي پروګرامونو په خاطر له امریکا او لویدیځ سره ډېرې ستونزې لري. همدا اوس پر ایران اقتصادي بندیزونه لګېدلي، کېدای شي چې په راتلونکي کې دا بندیزونه نور هم زیات شي، خو اوسنیو بندیزونو د ایران اقتصادي حالت اوس تر هر وخت ډېر خراب کړی دی او سم لوري ته نه دی روان.

نفت، ګاز، د کانونو ایستل، د اوسپنې ویلې کول، نقلیه وسایط، د کرنې ماشین الات، د برېښنا سامان او کېبلونه، ساختماني ماشین الات، کیمیاوي او پتروشیمي توکي، وسلې او مهمات، صابون، ټوکران، خوراکي توکي، سرامیک، ښیښه، ګوګړ، سګرېټ، کاغذ، پلاستیک، سیمنټ، دارو درمل، غالۍ او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي توکي دي.

د ایران ۱۲ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، پاتې نوره یې څرځایونو، ځنګلونو، غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۲۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او ۱۱ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راوړي. غنم، وربشې، وریجې، چغندر، پنبه، زعفران، تنباکو، چای، حبوبات، سابه، مېوې، وړۍ، غوښه، لبنیات، هګۍ او واښه د ایران مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.

تېل، ګاز، د ډبرو سکاره، مس، اوسپنه، سرپ، کرومایت، سره زر، سپین زر، ګوګړ او بېلابېل قېمتي او تعمیراتي کاڼي د ایران له مهمو کانونو څخه شمېرل کېږي.

د دغه هېواد غټ تجارتي شریکان چین، هندوستان، جاپان، ترکیه، روسیه، المان، جنوبي کوریا، عربي متحده امارات او ایټالیا دي.

ایران ۱۱۰ هوایي ډګرونه لري چې نږدې نیمایي یې په عصري او پاخه ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټیلیفون کود ۰۰۹۸ او د انټرنټ کود یې IR دی، چې ټولټال یې لس میلیونه کسان ورته لاسرسی لري.

دغه هېواد د سړې سړکلنې عاید له پلوه د آسیا او نړۍ له شتمنو هېوادونو څخه شمېرل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.

له میلاد څخه اتلس پېړۍ مخکې هندو اروپایي قومونه هغې سیمې ته ننوتل، چې تر ۱۹۳۵ ز کال پورې فارس او وروسته بیا ایران نومیږي. دوی د سیمې پخواني اوسېدونکي چې د رمو په ساتلو بوخت وو، ځان ته مطیع کړل. نومړو قومونو چې تر لسم قمري کال پورې دغه سیمې ته لېږدېدل او آریایي بلل کېدل، خپله سیمه یې آریانا وبلله.

ماد هغه لومړني آریایان وو چې د آریانا په شمال لویدیځ کې اوسېدل. د ماد دولت له میلاد څخه ۵۵۰ کاله مخکې د هخامنشیانو د مشر کوروش په واسطه ړنګ شو او د دې سیمې دولت فارس قوم ته ولېږدېد. دوی بین‌النهرین ونیو او د هخامنشیانو سترواکي یې جوړه کړه. دغه سترواکي د داریوش په واکمنۍ کې د هندوستان تر لویدیځ، یونان، مصر، قفقاز او کسپین پورې پراخه شوه. له میلاد څخه ۳۳۰ کاله مخکې دغه سترواکي د مقدوني سکندر په لاس ړنګه شوه او ځای نیوونکو یې له ۳۱۲ تر ۳٦۴ وروسته میلاد کلونو پورې د دې سیمې په ځینو برخو کې حکومت وکړ او بیا د پارتیانو په لاس ړنګ شول.

د بني عباس د واکمنۍ په لومړیو کلونو کې د پخواني افغانستان په شاوخوا سیمو کې د خپلواکۍ غوښتلو احساسات پیاوړي شول او د طاهریانو، صفاریانو، سامانیانو، ال زیار لویکانو او دیلمیانو په لاس مات شول. غزنویانو تر ډیلي او منځنۍ آسیا پورې سترواکي جوړه کړه، خو دوی له ترکي سلجوقیانو څخه ماتې وخوړه. سلجوقیانو په خپل وار خوارزمشاهیانو ته ځای پرېښود او بیا د مغلو دور پیل شو. مغولو د عباسیانو وروستی خلیفه وواژه، د عباسیانو ۵۰۰ کلنه واکمنې یې پای ته ورسوله او د دې سیمې فرهنګ، اقتصاد او پرمختګ ته یې درانده زیانونه ورسول.

د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته، ایران د شوروي د بلاک له ټولو پخوانیو هېوادونو سره اړیکې ټینګې کړې او په ډېرو هېوادونو کې یې سفارتونه جوړ کړل.

اوس اوس ایران د خپلو اټومي پروګرامونو د پرمختیا له امله د امریکا او ملګرو ملتونو له بندیزونو سره مخ دی او اقتصادي وضعیت یې مخ په خرابېدو دی.

ایران او افغانستان ۹۳٦ کیلومتره ګډه پوله لري او دواړه هېوادونه ډېر ګډ تاریخي، دیني، فرهنګي او ټولنیز علایق لري. هغه وخت چې افغانستان د اعلحضرت غازي امیر امان الله خان په مشرۍ خپله خپلواکي تر لاسه کړه، د ایران مشروطه غوښتونکو او خپلواکۍ غوښتونکو د دې خپلواکۍ تود هرکلی وکړ او د دواړو دولتونو تر منځ ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې شوې.

د ۱۳۰۰ لمریز کال د سرطان په لومړۍ نېټه په تهران کې د افغانستان د لوی سفیر او فوق العاده استازي عبدالعزیز او د ایراني هیئت مشر مجدالملک تر منځ د دواړو هېوادونو د ښو اړیکو او دوستۍ تړون لاسلیک شو او په کابل او تهران کې د دواړو هېوادونو سیاسي دفترونه پرانیستل شول.

له کابل څخه تر تهران پورې د هوا له لارې فاصله ۱۳۱۷ کیلومتره او د وخت توپیر ۲۰ دقیقې دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٨,٢٥ |
| € | ٨٧,١٠ |
| Rp. | ٤٩٩ |
| ₹ | ١١٤٠ |
| ¥ | ١١,٣٠ |
| £ | ٩٤,٢٠ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# انسان د بریا لپاره خلق شوی دی

**حمیدالله حمیدي**

کله کله درته پوښتنه پیدا کېږي چې ولې تر اوسه پورې ښه ژوند او د کمال درجې ته نه رسېدلي او نه هم نږدې شوي یاست؟ ښکاره خبره ده چې منفي فکرونو او وېرې له دې کاروانه پاتې کړي یاست. هغه فکرونه دا دي:

زه یې نه شم کولای، وړتیا او ارزښت یې نه لرم. تاسې تل پر خپلو تېروتنو او نیمګړتیاوو تمرکز کړی دی. د الوت او بریا په موخه مو ځان او ذهن دویم ځلي پروګرام او ورغوئ. ځان د منفي فکرونو له شره خلاص کړئ. هره ورځ دغه خبرې تکرار کړئ، تمرکز پرې وکړئ او په عمل کې یې ثابتې کړئ:

زه باید د وجود د ننه انسان خپلواک کړم، زه له سلطنتي کورنۍ یم او یو لوی اتل یم. پوره ډاډه یم چې همدا نن به بشپړتیا ته د رسېدو لپاره ستاسې لومړنۍ ورځ وي. بدلون به مو له همدې نن پیلېږي، ښه تیاری ورته ونیسئ. داسې وړتیاوې به مو را وسپړل شي چې له دې مخکې ان تاسې خپله ترې ناخبره وی. په ذهن کې به مو د منفي فکرونو سنګرونه را ونړېږي او د یوه نوي، تازه، بریالي او خوښ ژوند پر لوري به ګامونه اخلی.

کېدای شي لومړی مو یو وزر له پوټکي راووځي، دا ډېره ښه ده. پر دې هم پوه شی چې خدای پاک ج هېڅ کله هم نه غواړي چې تاسې د یوه خنثی چینجي په څېر په خپله پېله (پوټکي) کې وچ شی او له منځه لاړ شی. خدای پاک ج تاسې د دې لپاره نه یاست پیدا کړي چې په خاپوړو لاړ شی، خدای پاک ج تاسې د الوت لپاره پیدا کړي یاست او د دې لپاره یې پیدا کړي یاست چې د خپلې روښانه راتلونکې لپاره استوار او ګړندي ګامونه اوچت کړی. اوس د دې وخت را رسېدلی چې بل وزر مو هم له پیلې (پوټکي) را وباسئ. پر ښوو فکرونو تمرکز ته ادامه ورکړئ. که مو د ذهن بیا رغونه پیل کړه او هغه مو له هغه څه سره همغږی کړ چې خدای پاک ج ستاسې په اړه ویلي، ځان به مو په بشپړه توګه له پیلې ایستلی او خپلواک کړی وي.

تاسې وړتیا لرئ، منظم او تاسې بې عیبه یاست. زه ډاډه یم او اعلان کوم چې ستاسې د وجود پادشاه د راوتو او وینښېدو په حال کې دی. باز مو د پرواز په حال کې دی، د وجود شاه پرک مو له پیلې څخه د راوتو په حال کې دی. له دې وروسته به تاسې هغه څوک نه یاست چې اوس یی، بلکې بشپړ به شی. داسې ځای ته به الوت وکړئ چې له دې مخکې نه وی ورغلي. دې ځای ته به له ایمان سره ور رسېږئ.

هغه څه مه اورئ چې خلک یې ستاسې په اړه وایي. له هغه څه سره ځان همغږی کړئ چې خدای پاک ج ستاسې په اړه ویلي دي. همدا اوس ستاسې په وجود کې یو بریالی، موفق او بدلون راوړونکی انسان، دې ته په تمه دی چې اجازه ورکړئ او خپلواک یې کړئ. ستاسې د زړه شاه پرک د الوت په حال کې دی. زه له تاسې غواړم چې ټول وجود مو خپلواک کړئ او د فعالیت اجازه ورکړئ. لازمه ده چې د خپل راتلونکي نسل لپاره یو څه وکړئ. تاسې هرڅه لرئ چې هم د ځان او هم د نورو په ګټه ترې کار واخلئ. ذهن مو بیا ورغوئ او پر دې باور ولرئ چې تاسې پاک، ذکي، ارزښت لرونکي، په خپل ذات کې بې ساري او تاریخ جوړوونکي یاست. کله مو چې ذهن بیا ورغاوه، بدلون هرومرو راځي.

په ۱۹۹۹ ز کال مې چې کله په لومړي ځل خلکو ته الهامي وینا پیل کړه، ډېر په اندېښنه کې وم او یو ډول په غوسه وم. هېڅ فکر مې نه کاوه چې د دې کار کولو وس دې ولرم. پر له پسې مې دا غږونه اورېدل: له ځان سره به مې ویل، خلک به دې مسخره کړي. ته نه پوهېږې څه وایې. خبرو ته به دې هېڅوک غوږ کې نه ږدي. دښمن غوښتل زه د چینجي په څېر په خپل پوښ کې پاتې شم او هېڅ وده ونه کړم. هغوی نه غوښتل زه دې د شاه پرک په څېر له پیلې را ووځم، الوت او ښکلی ژوند وکړم. کېدای شي ډېر لږ خلک ستاسې په ګټه خبرې وکړي. ډېری خلک غواړي چې موږ په سختۍ کې ژوند وکړو، د ناامنۍ احساس وکړو، همداسې روږدي و اوسو او بد عادتونه پرې نه ږدو. که موږ هم په دې اړه فکر او تمرکز وکړو، هغه دی چې ژوند به مو له کړاوونو ډک وي. دا هرڅه زموږ له ذهنونو پیلېږي. که دغه خلک وکولای شي زموږ ذهنونه کنټرول کړي، بس ټول ژوند مو کنټرولولی شي.

ما د خپل کار په پیل کې هغه کار وکړ چې اوس له تاسې غواړم ویې کړئ. هره ورځ به مې له ځان سره ویل:

دغه کار زه د خدای پاک ج په مرسته کولای شم. که خدای پاک ج له ما سره وي، نو څوک به راسره د مخالفت جرئت وکړي؟

ما دغه ډول جملې میاشتې میاشتې تکرارولې. د چینجي په څېر ورو ورو له پیلې راووتم. لومړی مې یو وزر ښکاره شو. څو کاله مې ډېر د ناامنۍ احساس کاوه او منفي فکرونه مې ذهن ته راتلل، خو کله مې چې د ذهن بیارغونه پیل کړه او فکر مې په دې اړه ښه شو، پوه شوم چې زه د نورو تایید ته اړتیا نه لرم، ځکه له ما سره د خدای پاک ج تایید او ډاډ ملګری دی.

**څه پېښ شول؟**

ډېر وزر مې له پیلې څخه بهر شوي وو. یو څه موده وروسته مې یوه پښه هم راووته. باید ووایم چې تر اوسه بشپړ شوی نه یم، په دې مانا چې لا هم پر هغه شاه پرک نه یم بدل شوی چې الوت وکړم، خو پوره په پېله کې هم نه یم بند. دومره شوي چې اوس مې ذهن ته منفي فکرونه نه راځي او د خلکو پر منفي خبرو هم سر نه خوږوم. کله چې اوسنی وضعیت له پخواني یا لومړني حالت سره پرتله کوم، نو هغه پخوانی انسان نه یم. د ناامنۍ احساس نه کوم، ځکه ډاډه یم چې خدای پاک ج هرومرو د یوه کار لپاره پیداکړی یم. اوس دې ته د یوې ستنې د سیم په څېر هم اندېښنه نه کوم چې د چا بد ایشم. زه خوشاله یم، پاک یم، ژوند مې ډېر ښه شوی دی، دا زما د ذهن د تکامل او بیا رغونې ښکارندویي کوي.

کېدای شي تاسې هم تر اوسه پورې په پوره توګه له پیلې څخه نه وی راوتلي. خو ناهیلي کېږی مه! خدای پاک ج تر اوسه پورې ستاسې پر ذهن کار کوي. هره ورځ چې پر ښو فکرونو تمرکز کوی، لږ له پیلې راوځی. کله چې له پیلې څخه په بشپړه توګه راووځی، نو هرومرو به پرواز وکړی. خدای پاک ج به مو په ژوند کې داسې ځایونو ته ورسوي چې ان په اړه مو یې فکر هم نه وي کړی.

ولې له هغه سره چې خدای پاک ج یې درته وعده درکړې ده، ځان نه همغږی کوئ او هغه څه یې چې درته ویلي، نه یې منی؟ نشم کولای لوی لوی کارونه وکړم، زه هېڅ وړتیا نه لرم، که زه د کوم بل ملیت وای...، که مې تېروتنې نه وای کړې... دا پلمې نورې مه کوئ. تاسې سمبال شوي یاست، وړتیا یې لری، تاسې ټول هغه څه لری چې تقدیر ته پرې ځان رسولی شی. دا ټول ستاسې په باطن کې دي، خو تاسې هم باید د هغې د راڅرګندېدو لپاره پکې برخه واخلئ.

## تازه موندنې: تېره میاشت په ټول هېواد کې ۳۶۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

تېره میلادي میاشت په افغانستان کې څه باندې ۳۶۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې دا د وړمې میاشتې په پرتله په مرګ ژوبله کې دوه برابره زیاتوالی ښیي. دغه راز په دې میاشت کې د بریدونو په شمېر کې هم ۸۶ سلنه ډېروالی راغلی دی.

په هېواد کې د مرګ ژوبلې کچه په داسې حال کې لوړه شوې، چې د سولې هڅې هم چټکې شوې او هیله ده چې په راتلونکو څو ورځو کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شي.

د پژواک خبري اژانس د راپور له مخې، د روان ۲۰۱۹ زېږدیز کال د جون میاشتې پر مهال په افغانستان کې نږدې ۱۵۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه، خو تېره (جولای) میاشت د مرګ ژوبلې دغه شمېره نږدې ۳۶۲۵ ته لوړه شوې ده.



د پژواک خپاره شوي خبرونه چې د بېلابېلو سرچینو د څرګندونو له مخې برابر شوي، ښیي چې د روان زېږدیز کال په جولای میاشت کې د هېواد له ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ ولایتونو کې بریدونه شوي چې له امله یې ۱۹۵۷ کسان وژل شوي او ۱۶۶۸ نور ټپیان دي.

دغه مرګ ژوبله په ۲۴۶ بېلابېلو بریدونو کې اوښتې ده چې د جون میاشتې په پرتله ۸۶ سلنه ډېروالی ښیي.

د معلوماتو له مخې، له یادو بریدونو څخه ۸۹ طالبانو، ۷۳ ناپېژاندو وسله والو، ۷۰ دولتي ځواکونو او ۱۴ په افغانستان کې مېشتو بهرنیو ځواکونو کړي دي.

تر لاسه شوي معلومات ښیي چې تېره میاشت له هرو ۳۶ کسانو، ۱۹ ته په مخامخ نښتو، اوو کسانو ته په ځانمرګو بریدونو، څلورو ته په هوایي بریدونو او چاودنو او دوو ته په هدفي بریدونو کې مرګ ژوبله اوښتې ده.

تېره میاشت تر ټولو ډېر ۲۶ بریدونه په فاریاب، ۲۴ په کندهار، ۲۰ په غزني، ۱۹ په ننګرهار او پاتې ۱۵۷ نور په پاتې ۲۸ ولایتونو کې شوي دي. په جولای میاشت کې یوازې له بامیان او نورستان ولایتونو د بریدونو راپور نه دی تر لاسه شوی او په روان زېږدیز کال کې دا لومړی ځل چې له پنجشېر ولایت څخه د برید راپور تر لاسه کېږي.

## پامپیو: غواړو په افغانستان کې خپله پوځي مداخله کمه کړو

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي چې هېواد یې په افغانستان کې خپله پوځي مداخله کموي.

نوموړي د استرالیا په سډني ښار کې د هغه هېواد له چارواکو سره په ګډ خبري کنفرانس کې دا څرګندونې کړې دي. نوموړي دغه راز هیله ښودلې چې د افغانستان روان کړکېچ به له ډیپلوماټیکې لارې حل شي.

پامپیو ویلي: «ولسمشر ټرمپ دا خبره واضح کړې ده چې غواړي یو ډیپلوماټیک حل پیدا شي چې موږ ته په افغانستان کې زموږ د منابعو د کمولو لار پرانیزي او په همدې حال کې دا ډاډ هم تر لاسه شي چې افغانستان به بیا په داسې یو ځای نه بدلېږي چې پر امریکا دې ترې بریدونه وشي».



په ورته وخت کې د استرالیا د دفاع وزیرې لېندا رینولډز ویلي چې تر اوسه یې په افغانستان کې د خپل موقف په اړه کومه نوې پرېکړه نه ده کړې، خو دا ټینګار یې کړی چې هره پرېکړه چې کوي، د افغان حکومت په غوښتنه به یې کوي.

هغې د امریکا او طالبانو د سولې مذاکراتو په اړه ویلي: «دا خبره ماته واضحه شوې ده چې په افغانستان کې د سولې لپاره پیل شوي مذاکرات یوازینۍ لار ده. زموږ موقف تر دوامداره ارزونې لاندې دی. موږ منتظر یو چې ووینو د سپټمبر په ۲۸مه له انتخاباتو سره څه کېږي او د سولې د خبرو بل پړاو کې څه پېښېږي».

دا خبرې داسې مهال کېږي چې په قطر کې د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او طالب چارواکو ترمنځ خبرې بیا پیل شوې او دواړه خواوې تمه لري چې په دغو خبرو کې یوې موافقې ته ورسېږي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي چې د خبرو مهمه برخه یې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو ته یو زماني جدول ټاکل دي.

امریکا تمه لري چې د روان کال د سپټمبر له لومړۍ مخکې له طالبانو سره یوې هوکړې ته ورسېږي. هڅې روانې دي چې دا موافقه په سپټمبر کې د افغانستان د ولسمشرۍ او په راتلونکي کال کې د امریکا د ولسمشرۍ له ټاکنو مخکې وشي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

